پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۸/۱۱/۰۸

# د ژوند ستندرډ او ټولنیز وضعیت

بیوزلي نه یوازې داچې دیوه وګړي فردي مشکل دی، بلکې تر دې هم مهمه دا چې بیوزله ټولنه لا زیاتو ستونزو سره مخامخ وی او بالاخره د ځان او د نورو دښمنه ګرځي. بیوزلي هغه ناوړه حالت دی چې یو وګړی (یا هم یوه ټولنه) د ژوند حد اقل امکانات ونه لري. په دې حالت کې وګړي عادی وضعیت او روحي ثبات له لاسه ورکوي او پریشانی، له ژوند څخه زړه توروالی، موهوماتو او خرافاتو ته مخ اړول، یو پربل برغلونه، فزیکی ناتواني او یوپربل بی باوري مسلطه کیږی. په دې حالت کې وګړي ډیر ژر تحریک کیږی، زغم له لاسه ورکوی، افراطی عمل کوي او په پای کې آن د ځان او نورو ژوند ورته بی توپیره وي. د ډیرخپګان خبره داده چې د بیوزلو دریځ او حیثیت هم ځوروونکی وي. دوی ذاتی غرور له لاسه ورکړی وي او د نورو لاس ته ګوري؛ بده خو داده چې په آسانه د نورو دلاس وسیله ګرځي.

د بیوزلي برعکس؛ هوساینه او اقتصادی ځواکمنی کې نه یوازې داچې پورته ناوړه حالات نه وي، بلکې وګړی دمتعالي ارزښتونو خواته ځي، روحي او جسمی صحت ډادمن وي، نشاط او نوښت وي، هیلې په غوړیدو وي او فرد دټولو او ټول دفرد سلامتی غواړي. هوساینه یو نسبي مفهوم دی، یعني کیدای شی یو وګړی نظر بل یا یوه ټولنه نظر بلې ته هوسا وي. یا کیدای شی یو وګړی نظر یو پخوانی وخت ته، په اوسنی وخت کې هو سا وي. *هوساینه یعنې د ژوند اړتیاوو ته لاسرسی.*

داچې دټولنې وګړي تر کومه بریده پورې له یو شمېر ضروري توکو، خدمتونو او اسانتیاوو څخه برخمن دي او د هېواد نا خالص کورني تولید څخه څومره هریووګړی ګټه پورته کولای شي، د ژوند کچه یا ستنډرډ (Living standard) بلل کېږي. دا یو نسبي مفهوم دی چې هره ټولنه کې توپیر لري.

نن ورځ خدمتګار، بادرایته، مسئول، د تخصص لرونکو مدبرو مدیرانو لرونکي حکومتونه د ژوند د ستندرډ د ترلاسه کولو لپاره کار کوي. دوی په دې پوهیږي چې د یوې روغې- رمتې ټولنې دلرلو لپاره باید ټاکلو ستندردونو ته ورسیږی، ترڅو په ټولنه کې وفاق، عدالت،ثبات او باور رامنځته شی. د انسان د مادي اړتیاوو پوره والی، د ده



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پرشخصیت او معنوی بُعد اغیز لری. نو د دي لپاره چې د ټولني وګړي مو د انسانی عالی سجایاوو لرونکي، مهذب، عاطفي، متعادل، خوښ او سالم وي، باید دغه ستندردونه او معیارونه ورته چمتو کړو.

دلته د انسانی ژوند د ستندرد یو څوهغه معیارونه او علایم چې د پرمختیا په پایله کې راڅرګندیږي په لاندې توګه په لنډ ډول لست کیږي:

۱ . **د یو هیواد په مسلط او اصلی اقتصادی سکتور کې د دوی دمادی نعماتو د تولید اندازه:** دبیلګی په توګه د برازیل اساسی اقتصادی تولیدات اوسکتور د قهوی یا ربړو تولید دی، دخلیج د هیوادو اساسی سکتور نفت دي او داسې نور. په اوسنیو شرایطو کې چې لا موږ نوي زیږیدلی او نوي په پښو دریدلی صنایع (infant industry) هم نلرو، او لا اوس مو هم کرنه عمده تولیدی سکتور دی، نو زموږ لپاره د کرنې په سکتور کې د یو تن زراعتي کارګر د تولید د اندازې لوړوالی، یو شرط دي. دا چې زموږ د کرنې د وزارت او دغه سکتور کې د کار کوونکو د کار اغیزمنتیا، د دغې ادارې ستراتیژۍ، تخصصی کیفیت او بالاخره دکار پایله څه ده، ټولنه ورباندې قضاوت کولای شي. *خوراک د انسان لومړنی فزیولوژیکی اړتیا ده؛*

۲ . **د سړي سر د بریښنا د لګښت اندازه:** انرژیکی سرچینی او د انرژی مهیاوالی د ژوند مهمه اړتیا ده، په تیره بیا نن ورځ تر نیمایی زیات ضرورتونه د بریښنا په واسطه پوره کیږی. په هغه ټولنه کې چې لا هم په یوویشتمه پیړۍ کې ښارونه بی بریښنا او خلک تورتم کې وي، یا بریښنا په لاسي توګه پرانسانو درول کیږی، نو د دوی د ژوند معیار به په کوم برید کی وارزوو؟

۳ . **د ډېرو د سکرو یا کومې بلې انرژیکي منبع لګښت:** د مدبرو رهبرانو او خدمتګزار دولتونو لرونکو ټولنو له بریښنا پرته کافی اندازه نور منابع هم تدارک کړی، لکه د ډبرو سکاره، نفت، سون ګاز، سولرانرژي او نور. په دې برخه کې د دوي لګښت د دوی دارتیاوو پوره کوونکی دی. هغه ټولنه چې لا اوس یې هم ښځې او ماشومان پچې جارو کوی یا له غرونو بوټي راکوزوی، لا هم تر دې معیار پورې د رسیدوډیر واټن لري؛

۴.**دڅښاک لپاره پاکي اوبه لرل:** د بیوزلو ټولنو یو ستونزه د ناپاکه اوبو د څښلو لامله د هغو ناروغیو شتون دی چې په پرمختللو هیوادو کې لا د مخه له منځه تللی دي؛

۵ . **د وګړو د عمر اوږدوالی:** موږ به څه ووایو چې نورو هیوادو کې د عمر توقع کیدونکی اوسط حد ۷۴کلونه او دلته زموږ ټولنه کې ۴۷ کاله دی ؟؟؟

۶ . **د سړي سر حیواني پروتین لګښت:** الله(ج) خپلو بندګانو ته نعمتونه لورولي دي. لومړنی نعمت ایمان دی. نور نعمات هغه دي چې د دوی شاوخوا موجود دی، وریځې، سمندرونه او بادونه یې دوی ته مسخر کړی، په هغو کې یې شته منابع د دوی درزق وسیله ګرځولی، دوی ته یې هغه روا ګرځولي، دوی یې هڅولي چې په خپل مشروع کار او هڅو سره دغه نعمات تحصیل او ورڅخه کار واخلي او د پاک پروردګار شکر ادا کړی. خوارځواکي، نورو ته د یو مړی وچې ډوډی لپاره لاس نیول د قوی مومن صفت نه دی، دا عزت نه بلکې ذلت دی. هغه څه چې الله پاک فرمایی چې تر ذلت عزت غوره دی او تر ضعیف قوی ستایلی دی. مرفه ټولنو خپلو وګړو ته د ورځې تر ۳۰۰۰ کالوری انرژی مهیا کړی، خو د افغانستان خلک لا هم په تیاره کې یوبل سره په جګړه دي، دجګړې په لوګیو کې یې دشکران

پرځای کفران کړی او په ډېر مشکل يې د ورځنيو مهيا کالوريو اندازه تر ۱۵۰۰ رسيږی، هغه هم په شک کې ده. د دوی د پروتين منبع تر ډېره نباتی ده، نه حيوانی؛

۷ . **په ښوونځيو کې د ماشومانو د شموليت سلنه**: د دې معيار په هکله آن زموږ په ډېرو لرې پرتو کليو کې خلک تر هرڅا لازيات ښه پوهيږی، چې دښوونځيو څه حالت دی، څومره ښوونځی يې سوځول شوی او څومره ماشومان د تعليم له حق څخه بی برخې دي. دا ثابته خبره ده چې منکرات هغو حالاتو کې زياتيږی چې بيوزلی او ناپوهی د خپريدو په حال کې، ښوونځی تړل شوی او خلک وږي او وزګار وي؛

۸ . **د اوسپډو په يوه کوټه کې د وګړو وسطي شمېر:** لا اوس هم په يوويشتمه پيړۍ کې، په يوه کوټه کې ۸-۱۲ تنو پورې له ځاريو سره اوسيږي؛

۹ . **د هرو زرو تنو لپاره د ورځپاڼو شمېر**: لا هم په لويو ښارونو کې خلکو ته اخبار ندی مهيا، ډېر خلک لا دولتی اخبار (انيس، هيواد، اصلاح) نه پيژنی. هر کورته کومه ورځپاڼه نه رسيږي، دمطالعې کلچر ډېر ضعيف او له واقعيتونو او اطلاعاتو وقوف تر ټولو په ټيټه کچه کې دی، حال داچې يو- دوه غرونه ها خوا زموږ ګاونډيو هيوادوکې، آن د لرې پرتو سيمو هر کورته هر سهار ۸-۹ بيلابيل اخبارونه استول کيږي، يا اقلاً په هروزرو تنو کې ۷۰۰-۸۰۰ (په سلو کې ۷۰-۸۰)وګړی ورځپاڼو ته لاسرسی لري؛

۱۰ . **د دوکتورانو شمېر**: يو دوست کيسه کوله چې دکابل هوايی ډګر کې کابل ته راغلی يو بهرنی د هندی کمپنۍ الوتکی ته پورته شو، چې ډيلی ته ولاړ شي، کله يې چې شاخوا په سيټونو نظر ولويد، سوال ورته پيدا شو چې ايا دا امبولانس ده که الوتکه؟

۱۱. **د ښارونو پاکي، نظم، سهولتونه او د ښاري خدماتو وسعت:** کله که يو بهرنی کابل ته راځي، په مشکله سره باور کولای شی چې دا ښار به د يوه ديرش ميليونه لرونکی هيواد پلازمينه وی! کابل ښار يو لومړن ترين ښار دی، د وطن نور ښارونه هم همداسې درواخله؛

۱۲ . **د اجتماعي تحرک درجه**: له بده مرغه اوږدو جنګونو دملت روحيات ځپلي دی، له همدې امله ټولنيز تحرک، د خلکو ترمنځ خپلمنځې صميميت، درناوی، معاشرت، نوښت، تخليقات او ايجاديات نه لرو؛

۱۳ . **د ليک لوست لوړ نسبت:** لا هم افغانستان هغه هيواد دی چې بيسوادی پکې زياته ده؛

۱۴ . **د عصري ژوند له ټپلګو سره اشنايي:** په ډېر زحمت مو وروسته تر ډېره موډي څه ناڅه خلک د عصری ژوند له ټيلګو سره آشنا شول، خو بل شرط دا دی چې له عصری تکنالوژی سره سره يوځای د دغې تکنالوژی کلتور او د هغی د استعمال طرز هم زده شي؛

۱۵ . **د مطبوعاتو د ازادی درجه:** له نيکه مرغه دې برخه کې بريالیتوبونه لرو، خو لا هم ويره ده چې د ثواب تر نوم لاندې له دې آزادی بی برخی شو؛

۱۶ . **د بهرنۍ سوداګری جوړښت:** افغانستان هغه هيواد دی چې بهرنی سوداګری کې يې صادرات په سلو کې پنځه او واردات په سلو کې پنځه نوي دي،

۱۷ . **د بشري کار ځواک ورځ په ورځ ښه والی**: ترڅو د ماهر، نوښتګر اومتخصص کارځواک روزنې ته لومړیتوب ور نکړل شی او چارې تجربه لرونکواو پوهو کارکوونکو ته ونه سپارل شی، پرمختیا او د ژوند لازم ستندرد ته رسیدل نا ممکن دی؛

۱۸ . **د مالي او پولي مؤسساتو اغیزمنتوب**: د دغه ډول موسساتو غوره مدیریت، اعتبار او ګټور فعالیت د ټولنې مادی شتمنی او د هغې ګټه تضمینوی،

۱۹ . **نوې تکنالوژي**: په صنعت، کرنه، کانونو، ترانسپورت، ښوونه او روزنه، ودانیزو او نورو بنسټیزو برخو کې د تکنالوژۍ عصریوالی د وګړو د هوساینې او ملی تولید د زیاتیدو ضروري شرط دی،

۲۰ . **د سړي سر ګټې وده،**

۲۱ . **سیاسي استقرار او د وضعیت ثبات**: دا شرط د بشپړ امنیت او د قانون د حاکمیت معنا لري،

۲۲ . **د اداري د کفایت درجه**: د بی کفایتیه، فاسدې او ناکاره اداري څخه د خلاصون په معنا ده،

۲۳ . **د ګوندونو آزادي**: د ملی او مترقی ارمانو لرونکو احزابو شتون، دمدنی‌ارزښتونو، د وګړو د سیاسی شعوردپوخوالي او ولسواکی یو شرط دی؛

۲۴ . **د تفریحي، کلتوري او اموزشي مرکزونو شمېر او دې برخو کې اسانتیاوې او د فکر تعالی.**

دا کافی نده، چې وګورئ دېخوا په پرتله مو کوڅه کې ۲۰-۲۵ ګاونډیان د شخصی موټرو خاوندان شوي، مهمه دا ده چې د ملی شعور، ملی یووالي، مدني چلند، دواحد ملت کیدو تلاش او فرهنګی بنچمارکونه (عقربې) څه ډول دي، مهمه دا ده چې آیا دغه نوي د شخصی موټرو لرونکی شوی ګاونډیان موله کوم مدرکه د موټرو خاوندان شول، د چاپیریال د ستونزو، ښاري فرهنګ، دګاوندیتوب د حقوقو، د خپل اولاد دراتلونکی، ورځینو پیښو او نورو سبانیو مسایلو په اړه څه او څومره فکر کولای شی او د غالیو،تلویزیون او موټر تر څنګ یې کور کې کوم کتابتون هم جوړ کړی که نه؟

دا وسنجوئ چې عامه خدمات چې د ژوند دستندرد یو معیار دی، دهیواد ټولو وګړو او لرې پرتوسیمو ته په عادلانه او مساوي ډول رسیږي؟

له نیکه مرغه لا هم فرصت شته چې دغه ډول مسایلو ته لار- چارې وسنجوو.

هر هغه نظام چې د پورتینو ستندردونو د ترلاسه کولو لپاره پروګرام ونه لري، د سیاسی واک هرهغه علاقمند چې پورته اهدافو ته درسیدو په لارو- چارو ونه پوهیږی، د زعامت هر هغه مدعی چې د پورتنیو ستندردونو په ارزښت نه وي خبر، هغه د ټولنې د چارو د واک د ترلاسه کولو وړتیا نه لری. دوی به هیواد د آزادۍ او آبادۍ پرځای غلامی، بیوزلی، بی عزتی او تدریجی تحلیل او تجزیې خواته بوځي. پای